محمد هارون خپل شعشعي


۰۴ نومبر ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۶۶

**۱۳۳- کامل او آزاد :**

د کامل شېخ، کامل پير او کامل انسان په اړه يادونه وسوه، چي کامل بايد د نامتو عرفاني لاربنود - شېخ عزيزالديـــــــن بن محمـــــــد نسفي ( ۶۳۰- ۷۰۰ هـ ق) او زموږ د مفکر عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، له نظره د څلورو صفتو ( نېکي وينا، نېکو عملونو، نېکو اخلاقو او نېک معارف) څښتن يي (وي)؛ خو ازاد په تصوف او عرفان کي، هغه څوک دئ چي په وجود کي ( کي يي) د پرېښوولو( ترک)، ګوښه توب ( عزلت)، قناعت او خُمُول ( ګمنامی) څلور صفتونه تر کماله رسېدلي يي . مخلص هم په خپل منثور تاريخي او عرفاني اثر « حالنامه » کي د کامل او مکمل همدغو صفتونه ته اشاره کيي(کوي) ۱ . په دې ډول، هر هغه څوک چي لومړني څلور صفتونه ( نېکه وينا، نېک عملونه، نېک اخلاق او نېک معارف يا عرفاني پوهه) ولري، کامل يا بالغ دئ؛ نه خپلواک يا ازاد . بالعکس، هغه څوک چي وروستي څلور صفتونه ( پرېښوول، ګوښه والی، قناعت او ګمنامي) يي تر بشپړتابه رسولي يي؛ خود لومړنيو څلور صفتو څښتن نه يي، هغه ازاد دئ، کامل نه دئ .

اندېښمند عرفاني لارښود، شېخ نسفي، په خپل مشهور عرفاني اثر « انسان الکامل » کي د کمال او حُريت فلسفي اړخ ته په پاملرني سره استدلال کيي، چي د هر شي پای د بلوغ په عالَم کي دئ؛ او د هر شي وروستی هدف خپلواکي ده . کله چي مېوه په ونه کي پخه سي، عربان وايي مېوه بالغه سوه . کله چي مېوه تر بلوغ وروسته له وني پرې سي؛ او له وني څخه پيوند وشليي، نو عربان وايي، مېوه حُر يا ازاده سوه . هر څونه، چي يو بوټی يا مېوه د زړي ( توخم) مرحلي يا خپل لومړني پړاو ته رسيږي، په حقيقت کي د هغه شي د کمال او بلوغ دوره هم خپل وروستي مقام ته رسيږي؛ د مثال په توګه کله چي غنم يا نوري غلي داني وکرل سي، د پخېدو يا بلوغ په

وروستي پړاو کي زړي يا توخم ( تخم) کيي . انسان هم د نطفي په پيدا کولو سره، د بلوغ و پړاو ته رسيږي . د بلوغ دا پړاو د انسان لومړنی او وروستی پړاو دئ . زموږ فلسفي او عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، هم په « حالنامه » کي د بلوغ او ازادی پر مسأله ژوري خبري کيي . دی کاږي : « مېوه که هر څونه پخه هم يي، خو تر هغه مهاله، چي په ونه يا درخته پوري موښتي يي، بله بله ونه نه ځني شنه کيږي؛ ځکه مېوه لا په ونه يا درخته پوري موښتي ده . کله چي له وني بېله يا خپلواکه سي؛ او د روزني نخښي پکښي څرگندي سي، بيا نو هرومرو له هغي څخه بله ونه پيدا کېدلای سي . تر هغه مهاله چي څوک د مکمل کامل مقام ته نه يي رسېدلئ، نور کسان څه نسي ځني موندلای . کله چي د معبود له مرستي بشپړ سو؛ نورخلگ خپل مُراد او مقصود ته ورسيي، هغه وخت نو له پخواني مريد څخه مرشد يا لاربنود را پيدا سي٢ . »

د عرفاني مفکرانو له نظريو سره سم، انسان تر هغه وخته د بندگی رېښتيني مقام ته نسي رسېدلای، چي د دواړو جهانو له ټولو بتانو ځان ونه ژغوري . په بله ژبه، انسان تر هغه مهاله د رېښتيني ازادئ مخ نسي ليدلای، چي د بت پالني له ځنځيرو څخه خلاص نسي؛ ځکه حقيقی ازادي يوازي د حق تعالی په بندگی کي تر لاسه کېدای سي .

شېخ نسفي، حريت يا خپلواکي د پيوندو او اړيکو د ايسته کولو په مانا گڼي . لکه څنگه چي د ملک يا شهودي عالم موجودات د خپلي دايري يا پړاوو تر بشپړتوب مخکي نه بالغيږي، د ملکوت د عالم عقلي موجودات هم تر هغه مهاله کمال او بلوغ ته نه رسيږي، چي بيرته خپل لومړني حالت ته و نه رسيږي . د ملکوت د عالم د زړي يا توخم په باب بېلابېلي خبري سوي دي . ځينو دا زړي خويونه او طبيعتونه بللي دي؛ ځينو دا توخم عقل گڼلئ دئ؛ او ځينو نورو استدلال کړئ دئ، چي هر څه له خدايه راځي او بيرته خدای ته ورځي . له څنگه چي د قرآن مجيد په ډېرو آيتو کي هم دې خبري ته اشاره سوې ده ( د نور مالومات دپاره وگورئ : مبدأ او معاد).

شېخ نسفي، په خپل بل مشهور اثر « کشف الحقايق » کي د انسان د بشپړتيا په باره کي د شريعت، طريقت، حکمت او وحدت د ډلو نظريي داسي بيانيي : « د شريعت عالمان وايي، چي د انسان کمال د حقيقي علومو په زده کړه کي دئ . د دوی له نظره، حقيقي علوم څلور دي : لومړی د نفس او په نفس پوري تړلو موضوعاتو پېژندنه . دوهم د خدای پېژنده . دريم د دونيا او دونيوي مسألو پېژندنه . څلرم د آخرت او اخروي مسألو پېژندنه . انبياوو ته نبوت په فضل او پېرزوېني سره ورکول سوئ دئ، نه په زيار او اختيار سره٣. » ځيني متصوفين وايي، د انسان کمال په دې کي دئ، چي د عيان مقام ته ورسيږي . په دې ډول خلگ څلور ډلي دي :

اوله ډله د تقليد ډله ده . دوهمه ډله د استدلال ډله ده . دريمه ډله د يقين او باور ډله ده . څلرمه ډله د عيان ډله ده . د تقليد ډله د اسلام په مقام کي دي؛ او د اسلام مقام په خپله هم خپلي مرتبي او درجي لري . د استدلال ډله د ايمان په مقام کي ده؛ او ايمان هم ځانته مرتبي او درجي لري . د عيان ډله د نبوت په مقام کي ده؛ او نبوت مقام هم ځان ته خپلي درجي او مرتبي لري٤ . ځينو ويلي دي، د انسان کمال او بشپړتيا په دې کي ده، چي د جبروت مقام ته ورسيږي . د دوی په فکر انسانان څلور درجي يا مرتبي لري : په لومړی مرتبه کي، د دونيا څښتنان دي . په دوهمه مرتبه کي د آخرت څښتنان دي . په دريمه مرتبه کي د ملکوت څښتنان دي او په څلرمه مرتبه کي د جبروت څښتنان دي٥ . د دونيا د مرتبي څښتنان د آخرت د مرتبي څښتنان لېوني بولي . د آخرت د مرتبي څښتنان د ملکوت د مرتبي و خاوندانو ته لېوني وايي . په همدې ډول د ملکوت د مرتبي خاوندان د جبروت د مرتبي وخاوندانو ته د لېونو خطاب کيي . د جبروت د مرتبي څښتنان ټول بخښي؛ او هر يو پر خپل ځای نېک گوري .

شېخ نسفي، د هري مرتبي د خاوندانو د عقل په باب هم خبري کيي؛ د مثال په توگه د جبروت مرتبي ته د رسېدلو کسانو عقل داسي بيانيي : « هر څوک، چي د کشف او الهام له لاري د شيانو وحقيقت ته رسيږي، په واقعيت کي

د داسي الهي پوهي په تر لاسه کولو وياړل کيږي، چي په مرسته يي خدای پيژني؛ له کتاب الله او کلام الله سره اشنا کيږي ؛ د خدای د رسولانو پيژندګلوي مومي؛ او دخدای تعالی ديدار کيږي[۶] . » د شېخ نسفي په نظر، ازادي يا حريت دري درجي لري :

لومړی درجه داده، چي انسان د ظلماني حجابو له بنده و وزي . دا حجابونه جاه ، مال او شهوت دي .

دوهمه درجه داده، چي انسان د نوراني حجابو له بنده و ژغورل سي . دا حجابونه پوهه، پرهېزګاري او طاعت دي . نبوت دادئ، چي د مړيني په ليدو مړ سي؛ د لويي او ځان غوښتني له بنده ازاد سي . دا د انبياوو ازادي ده؛ لکه څنګه، چي زموږ پيغمبر او د انبياوو سالار وويل : « فقر زما وياړ دئ . »

دريمه درجه داده، چي خپل ځان مړ کي؛ او په دي توګه د ځان له حجابه ازاد سي . دا د اولياوو حريت دئ . د وليانو او عالمانو مخکښ وويل : « موتوا قبل ان تموتوا[۷] »

د طريقت مشايخ وايي، چي د کمال او بشپړتيا خاوندان څلور ډلي دي :

لومړی سالکان . دوهم مجذوبان . دريم مجذوب سالکان . څلرم سالک مجذوبان . لومړی او دوهمه ډله ياني سالکان او مجذوبان کامل دي؛ خو مکمل نه دي . مجذوب سالکان او سالک مجذوبان، مکمل کاملان دي . سلوک په واک او اختيار دئ؛ خو جذبه د خدای په فضل او عطا پوري تړلي ده . اولياوو ته ولايت او انبياوو ته نبوت په فضل او پيرزوېني سره ورکړل سوئ دئ، نه په زيار او اختيار سره[۸] . شېخ نسفي ، د انسان بلوغ هم څلور ډوله بولي :

- لومړی د اسلام بلوغ دئ، چي د تقليد او انقياد مقام دئ . په دې مقام کي سالک پر ژبه وايي خدای يو دئ .
- دوهم د ايمان بلوغ، چي د استدلال او پوهي مقام دئ . په دې مقام کي سالک په زړه کي خدای يوګڼي .
- دريم د باور او يقين بلوغ دئ، چي د ډاډ او ارام مقام دئ . په دې مقام کي سالک ګويا خدای يو ويني .
- څلرم د عيان بلوغ دئ، چي د پردو د ليري کولو او له منځه وړلو مقام دئ . په دې مقام کي سالک خدای تعالی يوګوري[۹] .

د تصوف د لارويانو عروج او بشپړتيا په دې کي ده، چي د سالک اروا په روغتيا او وينتوب کي له وجوده ووزي؛ هغه حالتونه تر مرګ مخکي وګوري، چي تر مړيني وروسته څرګنديږي؛ د دوږخ ( دوزخ) او جنت مشاهده وکړي؛ د دوږخيانو او جنتيانو څرنګوالی وڅيړي؛ او له « عِلم اليقين »څخه و « عين اليقين » ته ورسيږي[۱۰] . شېخ نسفي وايي، انبياوو او حکماوو په يوه خوله ويلي دي، چي د موجوداتو منشأ او مبدأ، هغه جوهر دئ چي لومړی عقل يي بولي . ټول عقلونه، نفسونه، اسمانونه ، ستوري، عنصرونه، طبيعتونه،کانونه، بوټي او حيوانات په بالقوه ډول په لومړي عقل کي موجود وه . لکه څنګه چي ريښه، تنه، ښاخونه ، پاڼي، ګلونه او مېوه ګرده په زړي کي نغښتي دي . دا ټول موجودات له لومړي عقل څخه پيدا سوه؛ او د انسان تر مرحلې يي پرمختګ او تکامل وکړئ. انسان د دې لومړي عقل مېوه ده . کله چي انسان د عقل بشپړتيا ته ورسيږي، نو د ودي او تکامل دايره هم بشپړتابه رسيږي[۱۱].

د شېخ نسفي د همدې استدلال له مخي، عقل د مخلوقات اشرف دئ . عقل تر هرڅه خدای ته نيژدې دئ . هيچا بې عقله په کايناتو کي خدای نه دئ پيژندلئ . که څوک ووايي، چي د عقل د بشپړتوب په پای کي د خدای نور پيدا کيږي، دا سمه خبره ده . د سپيڅلي قرآن د حُکمو له مخي، د کايناتو ټول موجودات د حق تعالی د نور نخښې دي[۱۲] . له همدې کبله، کامل انسان پر مځکه د الله تعالی خليفه او دهغه سيوری بلل کيږي . مخلص، دداسي لوړو صفتو خاوند د اکمل يا مُکمل په نامه ياديي؛ او په دې ډول يي راپيژني :

د اکمل څـلور آیـاته

دی آزاد مرغه قجیــر دئ

توکل، ترک یي صفت شه

فراغت د ده سریــر دئ

د عزلت مُراد یي خپل که

دی عُنقا مرغ گوشه گیر دئ

شېخ نسفي، د ازاد یا خپلواک عارف د ځانگړتیاوو په باب کاږي، هر هغه څوک چي ښځه او اولاد، باغ او پټی، مال او منال، جاه او جلال، وزارت او سلطنت، شېخي او پیري، قضاوت او استادي، قرب او ولایت، نبوت او رسالت غواړي، بنده دئ ازاد نه دئ . ازاد هغه څوک دئ، چي د هیڅ شي په بند او اسارت کي نه يي . زړه يي د خدای تعالی د حرم په توگه، له هر راز بتانو او تعلقاتو څخه پاک کړئ يي . هیڅکله تر خپلي اړتیازیات څه نه غواړي؛ د مثال په توگه د کرباس یا ډاگي پرځای د اطلس هوس نه کیي . دغه راز د نوي پر ځای د زاړه او د زاړه پر ځای د نوي غوښتنه نه کیي . یوازي هغه څه غواړي، چي انساني اړتیا يي لیري کړي . د اړتیا وړ شی، که نوی يي که زوړ، هیڅ توپیر نه ورته لري . نه نوی شی څه خاصه خوشالي ورکیي؛ او نه د زاړه شي په وجه له هیڅ راز خوابدی او ناراحتی سره مخامخ کیږي . په لنډه ډول، نه د پاچهی په تر لاسه کولو خوشالیږي ؛ او نه يي په نسکورېدو او له منځه تللو غم او پرېشاني گالي . د پاچهی تر لاسه کول او بازل دواړه ورته یو شان يي . د خلگو په ردولو او منلو کي هم څه ډول فرق او توپیر نه ویني١٣.

مخلص، په یوه غزله کي د هغه کامل ځانگړتیاوي او صفتونه بیانيي، چي د کمال مقام ته رسېدلئ يي( وي)؛ خود ازادی د مقام وياړ يي لا نه يي تر لاسه کړئ :

د کـامل څـــلور صفـتـه

دی خوش گوی، نېکخوی کثیـردئ

دی عارف هم نېک افعال شــه

دا نښان د کـــامل میــر دئ

دی کـــامل شه آزاد نـــه دئ

آزاد حُر، اکمل بصیــر دئ

د نسفي او مخلص، له عرفاني عقیدي سره سم، دکامل او ازاد ( اکمل یا مکمل) تر منځ ددغو توپیرو تر پوهېدو وروسته، اوس پوهېږو، چي کامل ازاد،کامل اکمل یا کامل مکمل باید د اتو صفاتو ( نېکي وینا، نېکو عملو، نېکو اخلاقو او نېک معارف یا عرفاني پوهي، ترک، گوښه والي، قناعت او گمنامی) خاوند يي . دځینو عارفانو په اند، فراغت او ازادي په پرېښوولو،گوښه توب، قناعت او گمنامی‌کي نغښتي دي . د ځینو نوروله نظره بیا ازادي او فراغت په ترک، تسلیم او کتلو( نظاره کولو)کي پټ دي١٤ . شېخ نسفي، د نتیجه اخیستني په توگه، د ازادی او فراغت ددغو دواړو لارو په باب وروسته کاږي : « ما د ازادی او فراغت دواړه ډولونه وکتل؛ خو تراوسه په دي پوه نه سوم، چي کومه لار غوره ده ١٥ . » د شېخ نسفي د مشاهدي او څېړني له مخي، په هره لار کي بېلي گټي او اپتونه (افتونه) نغښتي دي .

**دنورو مالوماتو دپاره وګورئ :** تو حيد او دهغه ډولونه ( عام، خاص او خاص الخاص توحي)، نبي او ولي، ولي او ولايت، معجزه، كرامت او استدراج ،كامل شيخ، كامل پير يا كامل انسان، اخيار يا سرهنګان ، ابدال، اوتاد، ابرار، نقيبان، قطب، قطب الاقطاب ، غوث، غوث الاعظم، غوث زمان يا صاحب الزمان، دونيا، عقبا او مولا .

**لمنليكونه:**

١ نسفی، انسان الکامل ٨ ؛ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ٢٨٧ .

٢ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ٢٨۶ .

٣ نسفی، کشف الحقايق ٧٧.

۴ نسفی، کشف الحقايق ٧٧.

۵ نسفی، کشف الحقايق ٧٧ .

۶ نسفی، کشف الحقايق ٧٩ .

٧ نسفی، کشف الحقايق ١٠۴ .

٨ نسفی، کشف الحقايق ٧٧ .

٩ نسفی، کشف الحقايق ٧٧.

١٠ نسفی، کشف الحقايق ٧٧ .

١١ نسفی، کشف الحقايق ٧٩ .

١٢ نسفی، کشف الحقايق ١٠۴ .

١٣ نسفی، کشف الحقايق ٧٧.

١۴ نسفی، انسان الکامل ٩ .

١۵ نسفی، انسان الکامل ١٠ .

پاته لري